# دلمانځه او اوداسه مسایل



سیداحمد(ذهین)

Ketabton.com

دلمانځه او اوداسه مسایل

سیداحمد(ذهین)

1/11/

سه مسایل

Helmar

S-A-Z

1/11/13

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دلمانځه او اوداسه مسایل

**ترتیب کوونکی اولیکوونکی:سیداحمد(ذهین)**
**کال: ۲۰۲۱ \ ۱۳۹۹**

(c) ketabton.com: The Digital Library


# دکتاب پېژندنه

دکتاب نوم : دلمانځه او اوداسه مسایل

مرتب : سیداحمد(ذهین)

کمپوز : سیداحمد(ذهین)

تصحیح : سیداحمد(ذهین)

موبایل شمیرې : 0784459425 / 0731317240

ایمیل ادرس : shaistasayedahmadzaheen@gmail.com

فېسبوک : sayed ahmad zaheen

(ټول حقوق دلیکوال سره محفوظ دي)

(ډالی دې وي ټولو هېوادوالوته)

(ددی کتاب هر ډول چاپ، کاپی او برقی نشر بغیر د مؤلف د اجازی څخه منع دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library





(c) ketabton.com: The Digital Library


## داوداسه برخه

**اودس:دمعینو اندامونو وینځل اومسحه کولو ته اودس وایی.**

**داوسه حکم:اودس کول دلمانځونو داداکولو لپاره فرض دی.**

**مسحه:په یوشي لاس راکښلو یا راتېرولو ته وایي.**

**داوداسه فرضونه:داوداسه فرضونه څلور دي.**

**۱:دټول مخ مینځل(دسر له ویښتو څخه د زني ترلاندینی برخې پورې اودغوږو تر نرمی پورې).**

**۲:دلاسونو مینځل ترڅنګلو پورې.**

**۳:دسر دڅلورمي حصي مسحه کول.**

**۴:دپښو مینځل ترښنګرو پورې.**

**داوداسه سنتونه:داوداسه سنتونه پنځلس دي.**

**۱:نیت کول.**

**۲:داوداسه په پیل کې د(بسم الله الرحمن الرحیم) ویل.**

**۳: درې ځله دلاسونو مینځل.**

**۴: درې ځله دخولي مینځل.**

**۵: درې ځله دپزې مینځل.**

**۶:مسواک وهل.**

**۷:دږیرې خلالول.**

**۸:دګوتو خلالول(ددواړو لاسونو ګوتې یو په بل کې اچول اودهغو خلالول).**

**۹:دمخ ،لاسونو او پښو(لومړی ښي اندامونه اوبیاچپ اندامونه)درې ځله مینځل.**

**۱۰:په ټول سربانديې مسحه کول.**

**۱۱:دغوږونو شا اومخ په نویو اوبو مسحه کول.**

**۱۲:لومړی دښي غړو مینځل.**

**۱۳:اوداسه کې ترتیب مراعتول.**

**۱۴:پرله پسي داندامونو مینځل.**

**۱۵:دمینځلو په وخت کې داندامونو مُښل.**

**داوداسه مستحبات:داوداسه مستحبات پنځه دي.**

**۱:داوداسه په وخت کې نسبتاً په جګ ځای کېناستل چې جامې لندې نشي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲:داوداسه په وخت کې دخلکوسره خبرې نه کول.

۳:په اوداسه کې دچاڅخه مرسته نه غوښتل(مګر داچې عذر ولري بیامشکل نلري)

۴:که ګوتمی یې په ګوته اغوستلې وي دهغې خوځول چې لاندې ځای یې پاک شي.

۵:په ښي لاس دخولې مینځل او په چپ لاس دپزې مینځل.

داوداسه مکروهات:داوداسه مکروهات دسنتونو اویا دمستحباتو ترک کول یعنې پرېښودل دي.

داوداسه ماتوونکي:داوداسه ماتوونکي آته دي.

۱:له بدن څخه دبولو ،باد،غایطه موادو په خارجېدو سره.

۲:دبدن څخه دوینې او زوې خارجېدل.

۳:په ډکه خوله قی کول.

۴:بې هوشي.

۵:لېونتوب.

۶:نېشه کول(دنېشه یی موادو استعمال).

۷:په لمانځه کې په زوره(قهقهه)خندل.

۸:په اړخ اویا ډاډه خوب کول(هغه خوب چې داوداسه دماتېدو امکان په کې وي).

داوداسه طریقه:لاندې نهه خبرې پکې دي.

۱:داوداسه لپاره په زړه کې نیت کول اود(بسم الله الرحمن الرحیم)ویل.

۲:دواړه لاسونه تر مړوندو پورې درې ځله مینځل اوددرې ځله مینځلو څخه زیات مکروه دي.

۳:درې ځله په خوله اوبه تېرول اومسواک وهل بیا درې ځله په پزه اوبه تېرول اوپه چپ لاس سره دهغه پاکول.ددې اوبو څخه مراد دخولې اوپزې پاکول دي.

۴:درې ځله دمخ مینځل دیو غوږ دنرمۍ څخه دبل غوږ ترنرمۍ پورې اودتندي له ویښتانو تر زنې پورې.اود ږیرې خلالول.

۵:دواړه لاسونه سره له څنګلو درې ځله مینځل لومړی دښي لاس مینځل اوبیا دچپ لاس مینځل که ګوتمه یې په ګوته وي دهغه ښورول چې لاندې ځاي یې پاک شي.بیا ددواړو لاسونو ګوتې یوپه بل کې اچول اودهغو خلالول.

۶:دټول سر مسحه کول داسې چې غټه ګوته اود شهادت ګوته جلاکړې پاتې نورې ددواړه لاسونه درې درې سره ولګوي دګوتو دننی حصې دې دتندي له ویښتانودښت لورې ته تر آخره کش کړي بیا دې ددواړه لاسونو ورغوي دښت له لورې دمخې په لور راوګرځوي چې ټول سر مسح شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۷:دواړه غوږونه مسحه کړی چې دشهادت ګوتې په غوږونو کې داخلې اوغټې ګوتې به دغوږ بېږونی حصه مسحه کړي.

۸:ددواړو پښو مينځل دښنګرو سره او دګوتو خلالول دلاسونو دګوتو په رقم.

۹:دشهادتين او دعاء ويل(اَشهَدُ اَنَ لا الهَ الا اللّهُ وَحدَهُ لاشَرِيكَ لَهُ وَاَشهَدُ اَنَ مُحَمَّداًعَبدُه و رَسُولُه).

## دلمانځه برخه

لمونځ(الصلاة):الصلاة په لغت کې دعا ته ويل کيږي.او په اصطلاح کې عبارت دی له مخصوصو اقوالو او افعالو چې په تکبير(اللّه اکبر)سره شروع کيږي اوپه سلام سره ختميږي.

دلمانځه ديرپښودو حکم:په لاندې ډول دی.

۱:دلمانځه له فرضيت نه انکار کفر دی.

۲:دسستی اولتی له امله نه کول فسق دی.

دلمانځه شرطونه(باندني فرضونه):دلمانځه شرطونه آته دي.

۱:په پاکو اوبو اودس کول.

۲:دسختي اوسپکي مرداری څخه دځپلي جامې پاکوالی.

۳:دلمانځه دځای پاکوالی .

۴:دمرداری څخه دبدن پاکوالی.

۵:دعورت پټول.

۶:دقبلې لوري ته مخامخ درېدل.

۷:دلمانځه دوختونو پيژندل.

۸:دلمانځه نيت کول.

دلمانځه ارکان(داخلي فرضونه):دلمانځه ارکان شپږ دي.

۱:تکبير تحريمة(دشروع اللّه اکبر)ويل.

۲:په لمانځه کي ولاړه.

۳:قرائت ويل که يوآيت هم وي.

۴:رکوع کول.

۵:سجده کول.

۶:آخيره ناسته د(التحيات)ويلو په اندازه سره کول.

دلمانځه واجبات:دلمانځه واجبات اوه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱:سورة الفاتحة(الحمدالله)ويل.

۲:اوله ناسته كول.

۳:په آخيري ناسته كې التحيات ويل.

۴:داامام لپاره په زوره قرائت ويل په هغو ځايو كې چې په زوره ويل كيږي.

۵:داامام لپاره په كراره قرائت ويل په هغو ځايو كې چې په كراره ويل كيږي.

۶:په وترو كې دعا قنوت ويل.

۷:ركنونه په اطمنان سره اداكول.

دلمانځه سنتونه:دلمانځه سنتونه دوه ويشت دي.

۱:دنارينه لپاره په تكبير تحريمة كې دغوږونو تر برابرى،اودښځو لپاره داوږو تر برابرى لاسونه پورته كول.

۲:دتكبير تحريمة څخه وروسته دثناء ويل.

۳:په لومړي ركعت كې د(اعوذ بالله من الشيطان الرجيم)ويل.

۴:د(بسم الله الرحمن الرحيم)ويل.

۵:دفاتحې دسورت څخه وروسته د(آمين)ويل.

۶:دركوع څخه وروسته د(سمع الله لمن حمده)ويل.

۷:د(سمع الله لمن حمده)څخه وروسته د(ربناولک الحمد)ويل.

۸:هر ركن ته دانتقالېدو لپاره دتكبير(الله اكبر)ويل.

۹:په ركوع كې دزنګنونو دسترګو په سر،دلاسونو ابېنودل چې ګوتې يې پراخه نيولې وي.

۱۰:په ركوع كې(سبحان ربي العظيم)اوپه سجده كې(سبحان ربي الاعلى)ويل.

۱۱:دښي پښې ودرول اودچپې پښې غوړول په دواړو قعدو اوددواړو سجدو په منځكې ورباندې كښېناستل.

۱۲:د(اشهد ان لااله)په وخت كې دشهادت ګوتې پورته كول اود(الاالله)په ويلو سره ښكته كول.

۱۳:دكېناستلو په وخت كې لاسونه په زنګنونو باندې ابېنودل.

۱۴:دفرضو په دوه وروستيو ركعتونو كې د(الحمدلله....)لوستل.

۱۵:داامام له لوري دانتقالاتو تكبيرونه (سمع الله لمن حمده)او دسلام لفظ په لوړ آواز سره ويل.

۱۶:په وروستى ناسته كې درود ويل.

۱۷:ددرود څخه وروسته قرآني اومسنونه دعا ويل(اللهم ربنا آتنا...).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸:دسلام ګرځولو په وخت کې ښي اوچپ لورته دمخ ګرځول.

۱۹:کله چې مقتدي سلام ګرځوي په نیت کې به هغه خلک نیسي چې کوم دسلام لورته وي.

۲۰:کله چې امام سلام ګرځوي باید مقتدیان په نیت کې ونیسي.

۲۱:مقتدي به دسلام ګرځولو په وخت کې امام هم په نیت کې ونیسي.

۲۲:که چیرې یو څوک یوازې وي دسلام ګرځولو په وخت کې به حفظه ملائکې په نیت کې نیسي.

دلمانځه مکروهات:دلمانځه مکروهات لس دي.

۱:په لمانځه کې بېله عذره چارزانې کښېناستل.

۲:دلاس په ګوتو سره دآیاتونو شمېرل.

۳:په سجده کې دبازوګانو غوړول.

۴:په سترګو سره راسته اوچپ طرف ته کتل.

۵:بېله عذره په لمانځه کې دسترګو پټول.

۶:بېله عذره دسجدې دځای څخه دبرې لیرې کول.

۷:دسستۍ له امله په لمانځه کې کوشش کول.

۸:په لانځه کې اړېمې کښېل،که یې وس نه وو،نو په خوله دې لاس یا لستونې کښېږېږدي.

۹:په جامې،لاس،او ږېرې سره بازي کول.

۱۰:دصف شاته یوازې درېدل.

دلمانځه فاسدات:دلمانځه فاسدات څوارلس دي.

۱:په لمانځه کې بېله عذره غاړه تازه کول.

۲:په لمانځه کې نوږونکي ته(یرحمک الله)ویل.

۳:دخپل امام(چې اقتدا ورپسې وي)پرته بل چاته فتحه ورکول.

۴:د(لاالله الاالله)کلمه ویل که قصداً یې داجواب وو،لمونځ نه صحیح کیږي.اوکه یې دا جواب نه وو،بیا یې لمونځ صحیح کیږي.

۵:په لمانځه کې عورت لوڅېدل.

۶:دغم یا درد له امله دژړا آواز پورته کول،مګر که دخدای(ج)له وېروي،بیا یې لمونځ صحیح کیږي.

۷:په لاس یا ژبه سره دسلام جواب ورکول.

۸:دقضایي لمانځه یادېدل کله چې ترتیب ساقط نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۹:په لاس یا بل اندام سره ډېر کار کول.**

**۱۰:په قصد یا په هېره سره خبرې کول.**

**۱۱:په لمانځه کې خوراک اوڅښاک کول.**

**۱۲:په لمانځه کې(آه یا آوه)یا زګېروی او فریاد کول.**

**۱۳:په لمانځه کې په زوره قهقهه خندل.**

**۱۴:په لمانځه کې بې هوشه کېدل.**

**دلمانځه دفرضونوحکم:دفرایضو اداکول په لمانځه کې حتمي اوضروري دی.**

**که چیري یې څوک قصداً یا په هېره سره پرېږدي.لمونځ یې نه صحیح کیږي.**

**بېرته به خپل لمونځ راوګرځوي اوپه سجده سهوه نه راګرځي.**

**دلمانځه دواجباتو دپرېښودلوحکم:که په لمانځه کې یو واجب قصداً پرېښودل شي.**

**لمونځ به بېرته راګرځوي او که سهواً ترک شي سجده سهوه لازمیږي.**

**دلمانځه درکعتونو شمېر**

| ګڼه | وخت | درکعتونو شمېردسنتو | درکعتونو شمېردفرضو | مجموعه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | سهار | دوه ۲ | دوه ۲ | ۴ |
| ۲ | ماسپېښنین | شپږ ۶ | څلور ۴ | ۱۰ |
| ۳ | مازدیګر | × | څلور ۴ | ۴ |
| ۴ | ماښام | دوه ۲ | دري ۳ | ۵ |
| ۵ | ماخوستن | دوه ۲ وتر ۳ | څلور ۴ | ۹ |

**دسړي او ښځې دلمانځه ترمنځ توپیرونه:شپږ توپیره دي.**

**۱:ښځه به تکبیر تحریمة په وخت کې لاسونه تر اوږو پورته کوي.او نارینه دغوږو تر څنډو پورې.**

**۲:ښځه به دولاړو په وخت کې لاسونه دسینې سره نیسي.اونارینه یې تر نامه لاندې.**

**۳:ښځه به په تولو ناستو کې دواړه پښې ښې طرف ته باسي.اونارینه په څمکه کېني.**

**۴:په سجده کې به ښځه څنګلې دځمکې دسر سره لګوي.اونارینه یې نه لګوي.**

**۵:په سجده کې به ښځه څنګلې دزنګنونو سره نښلوي.اونارینه به یې جلا کوي.**

**۶:په سجده کې به ښځه خېټه له ورانو سره نښلوي.اونارینه به یې جلا کوي.**

**دلمانځه مکروه وختونه:په لاندې دریو وختونو کې لمونځ صحت نه لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library


۱:دلمر ختلو په وخت کې لمونځ کول رواه نه دی.

۲:دزوال په وخت کې لمونځ کول رواه نه دی.

۳:دلمر سترګه چې زېړه شي دلمر تر ډوبېدو پورې دهمغې ورځې دمازدیګر لمانځه نه پرته بل لمونځ رواه نه دی.

## دسړي اوښځې عورت

دسړي او ښځې عورت:په لاندې ډول دي.

۱:دسړي عورت:دنامه له غوټې څخه تر زنګنونو پورې،خو دزنګنونو سترګه یې عورت ده او دنامه غوټې یې عورت نه ده.

۲:دښځې عورت:په لمانځه کې دښځې ټول بدن عورت دی،مګر یوازې مخ،دلاس پنجه،اوقدمونه یې عورت نه دی.

## غسل

غسل:دغلیظت اوجنابۍ څخه ځان پاکولو ته غسل وایي.

دغسل فرضونه:درې فرضونه دي.

۱:خوله مینځل درې ځله.

۲:پزه مینځل درې ځله.

۳:دټوله بدن مینځل(درې ځله په ځان اوبه اچول).

دغسل سنتونه:شپږ سنتونه لري.

۱:ددواړو لاسونو مینځل تر مرونډو پورې.

۲:خپل شرمګا مینځل (استنجاء وهل).

۳:دبدن څخه مرداري پاکول.

۴:دغسل مخکې اودس کول مګر پښې به نه پرېولي.

۵:په ټوله بدن باندې درې ځله اوبه تویول.

۶:دغسل په آخر کې پښې په لوړ شي پرېولل.

غسل کول په څو وختونو کې سنت دی:په څلورو وختونو کې.

۱:دجمعې دلمانځه لپاره.

۲:ددو اخترونو دلمانځونو لپاره.

۳:دعرفات په ورځ.

۴:داحرام تړلو لپاره په میقات کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بيت الخلا ته تللو آداب

**بيت الخلا ته دتللو آداب:نـهه آدابه دي.**

**۱:بايد داسي ځای غوره شي چي دبولو ځاځکي ورواته لوزي ځان اولباس يي ککړ نه شي.**

**۲:بايد دخلکو له سترګو پناه شي.**

**۳:بيت الخلا ته دننوتلو څخه دمخه بايد(اللهم إِنّي اَعُوذُبِکَ مِنَ الخُبُثِ وَالخَبَائثُ)ووايی.**

**۴:دحشراتو په سرو کې بايد بولې ونه شي.**

**۵: بايد په لاره،هديره،اودخلکو دناستي په ځايونو کې قضای حاجت ونه شي.**

**۶:بايدد قضای حاجت په وخت کې خبرې ونه شي.**

**۷:بايددقضای حاجت دقبلي په لوري ونه شي.**

**۸:په ولاړو اوبو کې بايد قضای حاجت ونه کړی.**

**۹:استنجاء يا(اودس وچول)بايد په کيڼ لاس وشي.**

دلمانځه او اوداسه مسايلو پای

ومن الله التوفيق

ليکونکی اوترتيب کوونکی:سيداحمد(ذهين)

**ستاسو ددعا په هيله**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**